AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۲/۰۲/۱۹

# ویده خلک او ویدې تولنې

هغوی، چې ویده دي، هماغه خوبونه چې ویني یې (حقیقت) ګڼي.

خوبونه له تحت الشعور څخه سرچینه اخلي. په تحت الشعور کې هیلې، غوښتنې، غریزې، ویرې، عُقدې، کرکې، ځېل شوي احساسات او شاته وهل شوي عواطف زېرمه دي او خوبونه له هغو څخه سر راپورته کوي.

محض حقیقت د ویښ شعور په مرسته لیدل کیږي، عقل یې تشخیصوي او تفکر ورڅخه د ګټې اخیستنې لار و چار پلټي.

ټولنه هم همداسې ده، په ګډ لاشعور کې یې د وګړیو ګډ خوبونه زېرمه شوي دي. اروا پوهان دې ته تاریخي، ګډ، ټولیز یا قومي لاشعور وايي.

ویدې ټولنې هم خپل خوبونه (حقیقت) ګڼي، ځکه دوی هیڅکله دا حقیقت منلای نه شي، چې ویدې دي.

هڅه مه کوئ، ویده ټولنه په دې قانع کړئ، چې خوبونه یې ریښتیا نه دي.

هڅه وکړئ، ټولنه راویښه کړئ، چې حقیقت په سترګو وویني او ویې مني.

په دې هڅه کې به ډېر وځوریږئ، خو یو مهال به راویښه شوې ټولنه ستاسو زیار د یوه حقیقت په توګه درک کړي.

ښایي هغه مهال تاسو ژوندي نه یاست.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ